د پیغمبر «ص» اندیښنه

حضرت عمر «رض» وايي : د الله رسول ﷺ فرمايلي دي : «زه د دغه امت (اسلامي امت) په هکله له هر هغه منافق څخه اندیښنه لرم، چې خبرې به حکیمانه کوي، خو عمل به ظالمانه کوي .»

دغه حدیث امام بیهقي روایت کړی-مشکوة)

شریعت

اوونیزه

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحریک مرکزي نشراتي ارګان

چې وايي هغه وکړئ!

لوی خدای "ج" فرمايلي دي : " اې هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (اې مؤمنانو!) ولې هغه څه وایاست چې عمل وربانديي نه کوئ؟"

(الصف-۲)

دوهم کال دیارلسمه ګڼه پرله پسې (۶۳)
چهار شنبه د۱۳۷۶ هـ ش کال د حمل دمیاشتي (۱۳)
د۱۹۹۷ میلادي کال اپریل (۲)
د۱٤۱۷هـ ق کال د ذي القعده (۲٤)

تذکر: خطر ایمان است اګر به این کلمات مقدس بی حرمتی کنید .^

د کانونو او صنایعو سرپرست وزیر محترم الحاج مولوي احمد جان له شریعت اوونیزې سره په مرکه کې:

له بریداس کمپنۍ سره د ګاز د پایپ لاین په تیرولو په ټولو کلیاتو او مهمو خبرو موافقې ته رسیدلي یو

د پایپ لاین د تیریدلو په کار کې به دیرش زره افغانان په ښه تنخواه مصروف وي

بریداس کمپنۍ مونږ سره قرار داد کړیدی چې د پایپ لاین ټولو شاوخوا ولایتونو ته به ګاز او برېښنا ورکوي

د هرات د اسلام قلعه، هلمند، لوګر، غزني، پکتیکا، خوست د ولایتونو او د ننګرهار د اچین، شیرزادو او خوږیانیو د ولسوالیو د حسینی کانونو او زیرمو په استخراج مو پیل کړی دی

مونږ په دې خاطر چې تولید مو ډیر وي ټولې فابریکې په اجاره ورکوو

محترمو لوستونکو ستاسو د معلوماتو لپاره مو د کانونو او صنایعو له سرپرست وزیر محترم الحاج مولوي احمد جان سره مرکه کړیده چې ستاسو درانه حضورته یې وړاندې کوو .

پوښتنه : داسې اوریدل کیږي چې د افغانستان له لارې د ګازو یو پایپ لاین له ترکمنستان نه پاکستان او چین ته تیریږي لطفاً په دې اړه معلومات راکړئ

ځواب : نحمده و نصلي علی رسوله الکریم . اما بعد .

له کسومې ورځې نه چې بریداس ارجنټاینی کمپنۍ په ترکمنستان کې ګاز ویستلې دي نو پدې هڅه کې دي چې دی ګازوته بازار ومومي چې اوس په دې موفق شوي چې دا ګاز پاکستان، ایران او هند ته تیر کړي نو سره ددې چې هغوی ته نورې لارې هم شته لکه د ایران د نقشان لاره یا د قزاقستان له لارې چین ته خو دوی نه لټوي، حالانه او کم مصرفه لار افغانستان ده .

په افغانستان کې داچې امنیت ټینګ دي نو په دې لاره د پیسلا پیلو ګونونو او قوماندانانو پاتهاك سالارۍ د دوی د کار مخنیوی ... (پاتې)

عالیقدر امیر المؤمنین محترم الحاج ملا محمد رباني ، محترم ملا محمد غوث آخند و محترم مولوي احسان الله احسان را غرض ملاقات بحضور پذیرفتند

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : درین ملاقات روي مسایل مختلف و اوضاع سیاسي اجتماعي اقتصادي و نظامي کشور صحبت و تبادل نظر بعمل آوردند .

د لوګر په ولایت کې یوه مدرسه پرانستل شوه

د هیواد د بچیانو د روزنې او زده کړې په خاطر یوه دیني مدرسه پدې وروستیو وختو کې د لوګر ولایت په مربوطاتو کې پرانستل شوه او په فعالیت یې پیل وکړ . د احیاء العلوم مدرسه چې څه د پاسه پنځه سوو تنو طالب العلمانو ځای لري پدې وروستیو وختو کې د لوګر ولایت د خرخ ولسوالي د اوسیدونکو په مستقیمې مرستې او همکارۍ او د دغه ولایت د مسؤولینو او مشوینر د هلو او ځلو په نتیجه کې په خپل تعلیمي او روزنیز فعالیت پیل وکړ .

نخستین پرواز حجاج افغاني به صوب جده صورت ګرفت

خبرنګار هفته نامه «شریعت» که از محل اقامت حجاج در کابل واقع پوهنتون دعوت و جهاد که مسمی به «حاجي کمپ» ګردیده است، دیدن نموده بود، ګزارش داد : نخستین پرواز حجاج افغاني روز یکشنبه مؤرخ ۱۳۷۶/۱/۱۰ از میدان هوایي بین المللي کندهار در فضاي صلح و امنیت صورت ګرفت . ص ٤

یکتعداد سامان الات برقي در ناحیه دهم شهر کابل کشف و بدست آمد

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : سامان آلات متذکره شامل ۹ عدد سلیترنده راست، پانزده کیلوات هدفه عدد سلیترکش چار صدواته ، هفت عدد د براکت پانزده کیلواته، ۹ عدد براکت چار صدواته، پانزده عدد پلره رات، سه عدد ص ٤

سنګ تهداب یک باب مدرسه در ولسوالي نادعلي ولایت هلمند ګذاشته شد

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : در محفلیکه به همین مناسبت در آن ولسوالي به اشتراك منسوبین ریاست معارف و اهالي آن جا تدویر یافته بود محترم مولوي نور الدین رحماني رئیس معارف ولایت هلمند و محترم ص ٤

لابراتوار تشخیص امراض حیواني در جمال مینه نصب ګردید

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : به منظور فراهم آوري تسهیلات به مالداران اخیراً یك لابراتوار تشخیص امراض حیواني در کلینیك حیواني واقع جمال مینه ایجاد و آماده خدمت شد .

لابراتوار مذکور داراي بخشهاي بکتریولوژي، پرازیتولوژي مي باشند .

علما، روحانیون، بزرګان اقوام و متنفذین کشور طی ګردهمایی جداګانه

آژانس اطلاعاتي باختر از ولایات و ولسوالیهاي جداګانه کشور ګذارش داد در این ګرد همایي ها که به تاریخ ۱۰ حمل در ولسوالي سید کرم ولایت پکتیا از طرف قوم احمدزي، ننګل د طوطاخیل . به تاریخ ۸ حمل از طرف اهالي ولسوالي نورستان به تاریخ ۸ حمل در نواحي سوم و ششم شهر کابل، به تاریخ ۹ حمل در ولسوالي شینواري ... (پاتې)

د اسلامي تحریک تر بریالیتوب وروسته لومړني علمي زراعتي سیمینار پای ته ورسید

د افغانستان د طالبانو د اسلامي تحریک له بریالیتوب وروسته لومړني علمي ، زراعتي سیمینار چې یوه اوونۍ مخکې د هیواد د مرکز او ولایتونو د کرنې د رئیسانو په ګډون جوړ شوی وو دیوه پریکړه لیك په صادرولو سره یې خپل کار پای ته ورساوه .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړی پدې سیمینار کې چې د کرنې ... (پاتې)

د مرکز او د وردګو ولایت تر منځ مخابروي ارتباط تامین شو

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړي د وردګو له ولایت سره مخابروي ارتباط چې د تیرو رژیمونو په دوران کې بند شوی و په دې وروستیو وختو ... (پاتې)

په کندهار کې شل غیر فعال ټانکونه فعال شول

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړی دغه ټانکونه چې د کمونستي رژیم په وخت کې له فعالیته لویدلي وو پدې وروستیو وختو کې د کندهار د قول اردو د انجنیرانو او تخنیکرانو د هلو ځلو له امله جوړ او فعال شول . ... (پاتې)

جریان برق در قومانداني عمومي ګارد ملي دوباره احیا ګردید

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد که جریان برق در قومانداني عمومي ګارد ملي که در رژیم ګذشته قطع ګردیده بود به اثر سعي و تلاش ص ٤

د هیواد د دریو ګونو محکمو له پریکړې سره سم د کندهار په ښار کې یو تن قاتل قصاص شو

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړی د کندهار ولایت د سپین بولدك ولسوالي اوسیدونکي افغان د عبدالله زوی چې د ۱۳۷۵ کال د سنبلې د میاشتې په اومه نیټه یې عبدالولي د صمد خان زوی په قصدي او جبري توګه وژلی و په تفصیل ... (پاتې)

حد شرعي در حق یك زن تطبیق ګردید

خبرنګار هفته نامه «شریعت» از صورت چګونګي قضیه چنین ګزارش داد : خانم محمد امین ، یکتن از اهالي ولسوالي تنګراج ولایت لغمان که چندي قبل همراه مرد بنام عبدالله جان، از منزل خویش فرار نموده و مرتکب جرم شنیع زنا ګردیده بود که مجرمه خودش بفعل شنیع خویش اعتراف نموده روز شنبه مؤرخ ۱۳۷۶/۱/۹ بعد از اصدار حکم شرعي محکمه (از اینکه مزوجه محصنه بود) طبق شریعت مقدس اسلام در محضر تقریباً پانزده هزار از اهالي آن منطقه سنګسار ګردید .

ص ٤

پنج عراده وسایط نقلیه که آهن پارچه هاي دولتي را بطور غیر قانوني بخارج از کشور انتقال میداد کشف و دستګیر ګردید

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : به اثر سعي و تلاش موظفین ریاست عمومي مبارزه با جرایم جنایي وزارت امور داخله بتعداد پنج عراده وسایط نقلیه که آهن پارچه هاي دولتي و شخصي را بطور غیر قانوني بخارج کشور انتقال میداد در مربوطات شهر کابل دستګیر ګردید .

طبق یك خبر دیګر موظفین امنیتي ریاست عمومي مبارزه با جرایم (...)

به اثر پاك کاري یك جوي سي جریب زمین در یك وقت مورد آبیاري قرار ګرفت

باختر از شهر ترین کوټ خبر داد : جوي متذکره که با اثر سعي و تلاش ص ٤ ... سي جریب زمین در یك وقت مورد آبیار قرار ګرفت . خبرنګار آژانس اطلاعاتي با احداث و پاك کاري جوي لیلان در ولسوالي دهراود ولایت ارزګان بیش از

صدها میل اسلحه ثقیل و خفیف به دست نیرو هاي اردوي اسلامي افتید

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : در نتیجه عملیات تصفیوي سلاح و مهمات نیرو هاي اردوي اسلامي که طی چند روز ګذشته در ولایات ننګرهار، پروان، پکتیا، کابل، فراه، کنر، خوست، لوګر و لغمان صورت ګرفت .

توپ ٥٢ و ٧٥ ملي متري ۱۰ ضرب، ...

په سعودي کې د سخت باد او باران له کبله یو ویشت تنه ووژل شول

د یو بل خبر له مخې د سعودي عربستان د جدې په ښارګي هم د شګېږ طوفانونو له امله ډیر تاوانونه ... د بي . بي . سي خبري آژانس ... او د خبر له مخې د سعودي عربستان په پایتخت ریاض کې د تند باد او سختو بارانو له کبله یوویشت تنه وژل شوي ... (پاتې)

د اسرائیلو پر خلاف په قاهره کې د عربي ښځو مظاهرې تر سره شوې

په لسګونو تنو مصري ښځو د اسرائیلو پر خلاف اعتراض په توګه په قاهره کې د عربي ټولنې د مقر په وړاندې مظاهره وکړه او په بیت المقدس کې د یهودیانو لپاره د نویو کورونو د جوړولو د پالیسۍ پر خلاف د اقدام لپاره د عربي مشرانو غوښتنه وکړه . ... (پاتې)

د کندهار ولایت د اطلاعاتو او کلتور په ریاست کې درنه مشاعره جوړه شوه

د کندهار د میرمنې خاورې د مخکښ شاعر ارواښاد مولوي عبدالغفار بریالي په درناوي د کندهار ولایت د اطلاعاتو او کلتور د ریاست په تالار کې د مشاعرې یوه شانداره غونډه جوړه شوه .

د کندهار له ښار نه د باختر اطلاعاتي آژانس خبریال خبر راکړی ... وروسته مشهور شاعر محترم عبدالباري جهاني او یو شمیر نورو شاعرانو خپل شعرونه ولوستل . ... (پاتې)

د کابل پوهنتون رئیس محترم مولوي پیر محمد روحاني د ملګرو ملتو د سازمان د عالي کمیشنرۍ له استازي سره وکتل

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړی د ملګرو ملتو د سازمان د عالي کمیشنرۍ استازي له کابل پوهنتون سره د هر راز فرهنګي مسئلو په باب خبرې اترې وکړې . او ... (پاتې)

سرمقاله

دلوی خدای (ج) په نامه

ملګري ملتونه او زمونږ ستونزې

افغانستان د ...م یو داسې غرۍ دی چې تری حساب ورباندې کوي؛ له کله نه چې افغانستان ته د شوروي اتحاد له پوځي یرغل نه مخکې او وروسته څومره ستونزې او کړاوونه را ولاړ کړي دي ... په ډیره بیا د پوځي تیري په وړاندې ... راسره کړي ده :

که نیاغلي واکهر هول او دده سلفو منځي رامنځي وهلي دي ... شورش نشکاره کړي دي ...

خو دا چې د دوی د ... په موده کې هیڅ نه دي تر لاسه کړي، ... د افغانستان د خلکو په غوښتنو ... معلومات ورکړي ... د افغانستان د مسلمان او غیرتي ولس جوړښت له پېړیونو داسې راغلی دی چې د خپل هیواد ازادي بشپړتیا، مصئونیتیا او د اسلامي نظام عملي تفاذ پکې (۲مخ)

د اسلامي مقدس نظام تر سیوري لاندې د افغانستان د مسلمان ، مجاهد او دردیدلي ملت سوکاله او هوسا ژوند د افغانستان د طالبانو د اسلامي تحریک یوازینی ارمان دی

شریعت

داميتياز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحريك
دتاسيس كال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ليكوال هيئت ترنظر لاندې
مسؤول مدير : الحاج مولوي عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستيال : ملا أحمد الله «حنيفي»
دیوې ګڼې بيه : په هيواد كې (۱۲۰۰) افغانۍ
په پاكستان كې (۲) كلداري
آدرس : كابل وزيراكبر خان مينه/سرك۱۱/ كور (۵۲۰)
تيلفون : ۲۲۲۸۱ - توزيع و شكايات ٦۲۸۵۹
پوست بكس : (٤۷۱)
په پيښور كې : دطالبانو نمايندګي/ تيلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۳۷

د سرمقالې پاتې

غواړي، غوښتنه او خبره يې دا ده چې څه هم دوي ګڼ كامونه دي او په ګډو ژبو ګړيږي مګر په يوه خوله سوچه مسلمانان دي ؛ د افغانستان مسلمانانو غوښتل چې ددوي د لكونو قربانيو او هڅومره ستونزو په پايله (نتيجه) كې چې د هغو ستونزو د سم تعبير لپاره الفاظ نشته په افغانستان كې اسلامي دولت جوړ شي او په عملي توګه شرعي حكمونه نافذ شي هغه كه د جهادي تنظيمونو په يووالي وي او كه د ملت د نيكانو د حل او عقد شورې له منځه د يوه مخلص او تكړه شخصيت په غوره كولو وي .

مګر له بده مرغه د م.م د سولې استازو د سيمې له دولتونو سره په يوه غږ فقط دا يوې خبرې ته پښه ټمبه كړې وه چې براډبليس (پراخ بنسټه) حكومت دې جوړ شي او د هغه په تركيب كې دې د ټولو ډلو مشران، د لنډه او يهر نامتو افغانان برخه ولري؛

ددغه مطلب لپاره يې راز، راز بېخ كرښې (طرحې) او تعبيرونه وړاندې كړل؛ مګر يوه هم عملي او برياليۍ ته ونه ختله چې زمونږ د غم ځپلي هيواد او ملت كړاوونه پاي ته ورسوي ؛ دا ځكه چې د مطرح تنظيمونو او ډ لګيو د غوښتنو او تګ لارو تر منځ د ځمكې او اسمان توپيرونه وو، او هم دغه رنګه د هغو كسانو د ذهنيتونو او فكري جوړښت تر منځ ورته والي نه ؤ چې په دغو پروسو كې به په نظر كې نيول شوي وو؛ نو ځكه د تجيب له واكپرزولو وروسته زمونږ كشاله نږدې ځلور نيمو كلونو ته اوږده شوه ؛ مسلمان او كړېدلي افغانان د ډلګيو د بې رحمه، بې لارې او خپل سرو ټوپكيانو او پاټكيانو ډېرې نوې ناخوالې وليدلې او ترسنونې پورې ورسيدل، د قدرت نيولو د جګړو په وخت كې يې هغه ټول مصيبتونه چې په دنيا كې پيدا شوي دي وګالل چې په هغو كې تالېدلي او تا اوريدلي تعليمونه هم وو ؛ دا واړه له لوږي ، بې كورۍ او دربدرۍ ته برخيره وو؛ د شر او فساد د اداري داواړه ناشوردي او دردونه د خپل ځان د بقا لپاره طلايي موكه (موقع) ګڼله د م.م د سولې استازو او د دردېدلي اوس د سولې او ثنواني هيښتونو، علماوو، مخورو او سپين ږيريو ته به يې په ډېره اساني دا يوه غوښته په وار وار غبر ګوله چې(... براي آنكه خلاي قدرت بميان نيايد اګر بديل پيدا شود من قدرت را بدون تاخير برايش مي سپارم ...) ؛

دا ځكه چې د دوي په فكر هغسې بديل نه موندل كيده چې دوي بې په دروغو يادونه كوله؛ مګر كله چې الله تعالى د مظلوم او مسلمان ملت چيغې ، فريادونه او ژړاګانې د قبول په سمع واوريدلې او د ظالمانو او مفسدينو د ورکي اراده يې وكړه نو د طالبانو د اسلامي تحريك (سلمهم الله تعالى) نعم البديل يې په دغه ګوريدلي، مسلمان او مجاهد ملت باندې پيرزو كړ چې د هغوي په لاس يې د دوي سر، مال او ناموس د دوي له شر او فساد نه وژغورل - الحمد لله.

مګر ځرنګه چې د شر ، فساد او الحاد ځالې لا اوس هم د هيواد په شمالي برخوكي پاتي دي او زمونږ باتور او مسلمان ولس د پخوا په شان د دوي له لاسه د اور په نښي كې ويرتيږي او د طالبانو د اسلامي دولت ځواكونه د هغو مظلومو او مستضعفو وروڼو او خوېندو د ژغورنې په هڅو كې د خندوكش د سپينو واورو په لمنو كې د قوماندي انتظار باسي په دغه وخت كې د م.م مشر نباغلې كوفي عنان د جګړو د بيا پيل كيدو تشويش ښكاره كړي دي او ورسره يو ځاي ښاغلي ډاكتر هول هم خپلې هلې ځلې بيا تازه كړي دي؛ په داسې حال كې چې موږ يو ځل بيا د دوي هڅې د خپلې دندي (د نړۍ امنيت ته خدمت) د پوره پيژندني د بيلګې په توګه ګڼو او په درنه سترګه ورته ګورو، مګر په خواشينۍ سره دا خبره بلوده وورسره كوو چې دوي اوس هم لكه پخوا د افغانستان د ولس په مزاج او غوښتنو دنه پوهيدلو - او يا ځان نه پوهولو - له اصله له واقعيتونو او د ملت له غوښتنو سره ناسمې هلې ځلې كوي او دا په هم د پخوا په شان بې ګټې وي؛ ځكه : م.م او استازي يې اوس هم د هغه له وخته تيري او ازمويلي شوي بېخ كرښې (طرحې) او براډبليس حكومت جوړولو خبرې كوي چې د هغه د تركيبي توكيو (اجزاوو) له نوم اخستلو سره اوس د افغانستان ولس سخت حساسيت او ژوره كركه لري؛ ځكه : اوس د افغانستان مسلمانانو د طالبانو د اسلامي دولت تر سيوري لاندې د امن، سركالې او ډاډمن ژوند سا اخيستې ده او د هغه له بركته د ځلاندې راتلونكي او سمسور هيواد په تمه له ولولو نه ډك د پسرلي لمانځنه كوي، نو طبعاً په داسې وخت او داسې فضا كې د هغو ظالمانو او لوټماراتو د نوم اخيستلو له اصله له م.م نه هم ګيله من دي او وايي چې ولې م.م په دي هڅه كې دي چې زمونږ د هيلو نوې سپاوون ته خدايه مه كړي -د هغو تورو ترږميو تاولي كيله يو ځل بيا وروالغونډي؛

د طالبانو د اسلامي تحريك مشرانو د م.م د غو د واقعيتونو او ملت دغوښتنو په خلاف هڅو ته لا بيا هم د درناوي لپاره تريخ او منفي ځواب نه دي ويلي او تل يې په پراخ تندي او درنښت سره د ډاكتر هول هڅو ته - ددې د افغان ولس د مزاج او غوښتنو د نه پيژندنې په عنو - مثبت ځواب ويلې دي او دافغان ولس د كركې وړ له دښمنانو سره يې خبرو ته تل خپل چمتو والي ښكاره كړي دي، سره له دې چې پوهيږي چې د افغانستان د اسلامي دولت او ملت دښمنان په غير عملي او غير فطري توګه د خبرو پر مخ بيول غواړي او همغه انګيزه د تيرو خبرو د نه برياليتوب لا مل ؤ دوي ددي لپاره چې له ملت نه يې بيخي تمه شكيدلې ده او خپلي ځيري د ملت په آينه كې ډيري بدرنګه ګوري اوس يې د خپلې بقا لپاره بوازيني هيله او وروستني چانس دا دي چې د م.م له لارې په ملت باندې خپلې كرغيړنې ځېرې ور وتپي نو ځكه په خبرو كې په يو ځل هر څه تر لاسه كول غواړي، هغه عاقلانه لاره چې د طالبانو د اسلامي تحريك مشرانو د خبرو په بهير كې نيولې ده هغه تدريجي حكيمانه او عملي لاره ده چې تر هر څه د مخه دې بنديان تبادله شي او بيا دي پاكلي كميسيونو په تدريج او تدبير سره په كراره حوصله د نورو مسايلو ځيړنه پيل كړي ؛ دا خو دا شوه ؛

مګر زمونږ مشوره دا ده چې كه م.م په رښتيا سره د افغانستان د كړيدلي ملت له غمه مړوي نو غير عملي او له واقعيتونو او د ملت له غوښتنو نه جلا هڅې دې د ملت له غوښتنو سره يو ځاي كړي او د ملت غوښتنه دې ومني، ځكه د افغانستان ملت د ملل متحد عضويت لري نه يو څو كرغيړني ځيري، د ملت د زړه غوښتنه داده چې د طالبانو د اسلامي تحريك په لاس جوړ شوي دولت د ملت نماينده او د ملت غم خور دولت دي م.م دې دغه دولت رسمي وګڼي او خپلې مرستي دې ورسره پيل كړي، دغه لاره لنډه او عملي لاره ده - والله يقول الحق و هو يهدي السبيل .

موضع گیری رژیم تهران

م.ح سوېمن دراني

يكي از فكتور هاي عمده، كه جامعه اسلامي ما را در لبه، پرتګاه هولناك جنګ قرار داده است، موضعګيري رژيم تهران در رابطه با قضاياي افغانستان است .

لست مداخلات و تجاوزات دائم التزايد رژيم حاكم بر ايران، در امور كشور ما چنان طولاني و نيات خصمانه، آنها در برابر اقوام با هم برادر افغان و دولت اسلامي افغانستان ، چنان عيان و آشكار است كه با سهولت ميتوان فهميد سردمداران خود كامه و متعصب تهران با هر اسلاميكه در خدمت منافع و تفكرات باطل آنها نيست، و با هر مسلماني كه در بندګي اين بد انديشان و متعصبين نيست؛ كينه ميورزند

هيئت واقعي موضعګيري هاي تهران در قبال مذاهب بزرګ اسلامي و دول اسلامي از ابدا، انقلاب اسلامي ايران دچار سلسله كاستي هاي مرګبار بود كه از چند سال اخير بدينسو از همان چوكات طرح ريزي شده ني امام خميني انحراف ورزيده است ، وقباحت و زشتي سياست رژيم تهران در قبال قضيه افغانستان، حتي در داخل ايران توهمات و هراس هاي را بوجود آورده؛ زيرا زيانهاي ناشي از سياستهاي ماجرا جوئي و جنون انګيز رژيم تهران روابط ميان مسلمانان دو كشور را در بحراني ترين حالت آن قرار داده است .

تشديد فعاليتهاي خصمانه، حلقات معين رژيم تهران در مقابل مسلمانان سني مذهب ايران كه دارند و هكذا تعاون و تسائد همه جانبه و كاملاً تا مقدس با استعمار روس و حكومت هند و همچنان يكه تازي در عرصه جنګ وسيع پروپاګندي در كنار ساير دشمنان دين و مردم افغانستان، تمويل و تجهيز مشواريان خود فروخته و عمال وابسته بخود شان، ايجاد كريدور هاي هوائي به شهر هاي شبرغان ، كولاب، فراه، تالقان و باميان و همچنان رفت و آمد غير قانوني مسؤولين دولتي ايراني بداخل ولايات شمال كشور در لباس خبرنګاران، كه اين اشخاص بظاهر خبرنګار؛ كساني بجز عمال سرويس هاي جاسوسي (اطلاعاتي) رژيم تهران نيستند، اينهمه روشهاي دشمنانه، حكومت ايران را تشكيل ميدهد

اين موضعګيري هاي مقطعي و عاطفي زمامداران رژيم تهران در ارتباط به مسأله افغانستان، كينه و نفرت اكثريت مردم كشور ما را بر انګيخته و آنرا مغاير اخوت اسلامي، و نورم هاي بين المللي ميدانند، بصورت يقين چنين موضعګيري ها در پهنه منطقه و جهان به استثنا روسيه و هند هيچګونه طرفداري ندارد ، بلكه بطور روز افزون به رسوائي سياست آن افزوده ميشود و ميزان نفرت و انزجار مردم مجاهد و آزادګي دوست كشور ما ، نسبت به رژيم تهران فزونتر ميګردد .

پرسشي كه در اذهان عامه مردم مسلمان ما و ساير مسلمانان جهان، ايجاد ميګردد اينست كه ، رژيم حاكم بر ايران در سخن ، داد از عدم تعاون با كشور ها و قدرتهاي استكباري و استعماري ميزد ، و سنګ اسلام دوستي به سينه ميكوبيد و با ګزافه ګوئي ها و لفاظي هاي بي محتوي ، دم از عدم سازش و همكاري با قدرتهاي شيطاني ميزد ، چګونه يكدست و يكجا با اخلاص تمام با استعمار روس (عامل انهدام هست و بود ما) و حكومت هند در امور داخلي ما بطور پيګير مداخله مي كنند .

اګر رژيم تهران واقعاً دعواي اسلام دارد؛ چګونه با چنين عملكرد هاي خود به خائنين جهاد ، وحدت ملي افغانها و مهره هاي رسواي استخبارات روسيه التفات ميورزد. رسوايي موضعګيري ها و سياست هاي مفتضح كه هيچ آبرو و پرستيژ براي كارګذاران رژيم خود كامه تهران نګذاشت . مګر اين افتضاح و ننګ كافي نيست؟! مګر ميتوانند با پرده هاي رنګارنګي سر و صورتي اهداف به خصوص خود را بپوشانند، ولي چه بسا كه ديري نمي ګذرد پرده ها از هم دريده شده است و نقابها بزمين افتيده است بدين ترتيب ديده ميشود كه موضعګيري نادرست و دشمنانه تهران ... در قبال مسايل فيمابين رژيم تهران و دولت اسلامي افغانستان يګانه عامل، ايجاد و تشديد ،كشيدګي ها و مصيبت ها در كشور ما ميباشد، در حاليكه منافع هر دو مملكت مسلمان حكم ميكند كه اين موضعګيري نادرست، تصحيح و تعديل ګردد . زمامداران ايران با پيش ګرفتن سياست سالم و واقعبينانه بيش از اين اسباب ايجاد نفاق و ادامه جنګ را در كشور ما دامن نزنند در غير آن بهره جويان رژيم تهران در نمايش موضعګيري هاي طرح شده شان ان شا، الله ناكام بوده و خواهند بود؛ مګر ننګ ناشي از شكست سناريو هاي متعدد شان در رابطه با موضع افغانستان كفايت نميكند ؟ ... ؟

بګذارد دشمنان افغانستان اسلامي، يكپارچه و نيرومند، در هر شكل و صورت نقش خود را در توطئه هاي طرح شده در تهران، مسكو، دهلي بازي نمايند؛ ولي ملت ما بي هراس و مطمئن به توكل به ذات اقدس الهي در كنار دولت اسلامي افغانستان به پيش ميرود ، موج سيل آساي فداكاران و جانبازان نستوه و مجاهدين راستين اردوي اسلامي، اين موضعګيري ها و مجريان خود فروخته آنرا به ساحل رسوائي و خفت مزيد خواهد كشاند و نشاني از آنها باقي نخواهد ګذاشت . (انشا، الله)

د هیواد د بیا رغونې او ټولنیز پرمختګ اساسي لارې چارې

ا.زين غر

هرچانه جوته ده چې د بوې نيسمې لسيزې د كورنې جګړې په سرو لمبوكې د ګران هيواد ټوله شتمني وسوزيده او اقتصادي اساس ئې نه جبيره كيدونكي زيانونه وليدل، ټولې توليدي او عام المنفعه موسسې . لويې لارې چې د اقتصادي شارګونو حيثيت لري، شفاخانې، مكتبونه، مدرسې جوماتونه او داسې نور تاسيسات وران او ويجاړ شول او په بعضو كې نې بوه كوچنۍ ټوټه وسپنه هم پاتې نشوه، ټول ماشينونه، د برق پاټې د بريښنا مزي او په يوه جمله كې ټول هغه څه چې له هغه ځخه ګټه تر لاسه كيداي شوه د كباړ په توګه وپلورل شول او يا چور او تالا شول. له حقيقت ځخه به لري نه وي كه ووايو چې د ګران افغانستان اقتصادي بنسټ ډيري برخې ددې كورګوډي جګړې په اوږدوكې له منځه لاړ.

اوس چې د عاليقدر امير المومنين د خردمندانه لارښوونو لاندې د طالبانو محترم تحريك د هيواد په ځه باندې دري برخو كې واك او امنيت تأمين كړي، او د اقتصادي بنسټونو د بيا جوړښت لپاره شرايط رامنځته شوي نو لازمه ده چې مسوول مقامونه هغو اصلونو ته جدي پاملرنه وكړي چې د هيواد د بيا رغيدو او د ټولنيز پر مختګ لپاره د ټولو نه ضرور او اساسي بريښي . زمونږ په عقيده د نړۍ پر مخ د ټولو هيوادونو او د هري بشري ټولنې د پوره پر مختګ او د وګړو د ژوندانه د سطحې د لوړو لو لپاره، دري اساسي فكتورونه وجود لري، كه چيري هغه په پام كې ونيول شي او د ټولنې رهبري په صحيحه توګه له هغو ځخه ګټه پورته كړي ، هيواد به ئې ډير ژر آباد او د وګړو ژوندانه سطحه به بې په چټكي سره وده وكړي. دا دري مهم فكتورونه په لاندې ډول دي :

۱ - طبيعي غنا .

۲ - د فابريكو، كارخانو او نورو ماشين الاتو موجوديت

۳ - د با تقوا او زړه سواندو ملي كدرونو لرل او روزل .

په طبيعي غنا كې ټول هغه معدنونه چې د ځمكې لاندې او يا د ځمكې پړ سر موقعيت لري او دبوه هيواد په د نه كې موجودوي شامليږي. همدا ډول ټول ځنګلونه، دښتې، خړونه او لوي سيندونه هم د يوه هيواد د طبيعي شتمنيو په ډله كې شميرل كيږي. د طبيعي او موسمي بادونو د لګيدو جهتونه او د لمر بې پايانه انرژي هم كيداي شي چې د ملي اقتصاد د پياوړتيا په برخه كې د طبيعي شتمنۍ په ډله كې وشميرل شي .

زمونږ ښكلي او غرني هيواد چې د اسيا په زړه كې پروت دې د طبيعي غنا له پلوه د نړۍ د ډيرو غني هيوادونو په ډله كې راتلاي شي. زمونږ ټول كانونه لا تر اوسه يا نه دي كشف شوي او يا كه پيدا شوي هم وي ، استخراج ته نه دي سپارل شوي. د يو څو محدود ډيرو سكرو د كانونو ځخه پرته او همدا راز د ساختماني موادو لكه خاوره، جغل، د تهداب ډبرې، شګې، مرمر او داسې نور چې په كمه اندازه راويستل شوي او ګټه تري پورته شوې ده ، نور ټول سر بسته پاتې دي .

دا خبره به مبالغه نه وي كه ووايو چې د مندليف د جدول د ټولو هغو عناصرو كانونه په ګران افغانستان كې موجود دي ، چې د معدن د جوړولو قابليت لري. په دې هيواد كې د طلا سر شاره ذخيري د تجيبه فلزاتو لكه د سپينو زرو، پلاتينو، كوبالتو او داسې نورو ذخيرې، د نادره او كيمياېه فلزاتو لكه سيتريم، بيريليم، ليتيم، تنتاليم، نيوبيم او داسې نورو په لك ها و ټنه ذخيرې، د راديو اكتيفو فلزاتو ذخاير د رنګه فلزاتو لكه د مسو، جستو، قلعي ، ولرام، موليبدن، المونيم ، اوسپنې او داسې نورو په مليونو ټنه ذخاير د ډيرو سكرو سر شاره ذخيرې، د ساختماني موادو او مختلفو مالګو بې شميره كانونه او ذخاير ، د قيمتي او زينتي ډبرو لكه ياقوت، لعل، زمرد، تورمالين (بيروج). كونسيت، ګيدنيت د بيريل رنګه او شفاف ډولونه، دقيمتي ګرانانو مختلف ډولونه، د كوارس مختلف رنګه او شفاف ډولونه، صنعتي مسكوويت د رينتي ډبرې د نفت او ګاز ذخاير او داسې نور په لس ها و اوسل ها و كانونه د هيواد په جنوب، شمال، شرق ، غرب او مركزي برخو كې موقعيت لري، چې د معدنونو د اندازې په حساب، كولاي شو هغه د لويو، متوسطو او كوچنيو كانونو په ډله كې وشميرو .

همدا شان د هيواد په جنوب، شرق، شمال شرق او مركزي برخوكي طبيعي ځنګلونه موجود دي چې د لرګيو ډير ښه منابع شميرل كيداي شي. د شمال جنوب او جنوب غرب پراخه دښتې د يوې خوا د كرهنې لپاره او د بلې خوا د مواشيو د روزنې او ساتنې لپاره ډيره ښه زمينه برابروي. د ګران افغانستان د ټولو لويو سيندونو په سينه كې په مليارډونو كيلو واټه د بريښنا انرژي پرته ده، چې متاسفانه په اوسني وخت كې له هغې ځخه هيڅ ګټه نه ده اخيستل شوې. د كوكچې سين، د آموسين، د مرغاب سين، د هري رود سين، د هلمند سين، د پنجشير سين، د عليڼګار سين، د كړ سين او داسې نور، هغه لوي سيندونه دي چې د هر يوه په صبير باندې د يوه نه، بلكه د لس ها و بندونو د جوړولو امكانات شته، چې له يوې خوابه شاړو ځمكو ته اوبه برابرې شي او له بلې خوابه د ټول هيواد د ضرورت ځخه په ځو واره زياته د بريښنا انرژي توليد كړي. چې زمونږ په صادراتو كې به ډير ګټور عايداتي منبع وي .

همدا شان د هيواد په جنوب غربي، شمالي او بعضي نورو برخوكې چې د موسمي بادونو د لګيدو جهت د ځو مياشتو په موده كې ثابت وي ، كيداي شي د اتموسفير له بې مصرفه او بې پايانه انرژي ځخه د لويو دستګاو د فعالولو ګټه واخيستلاي شي. خداي(ج) پاك موږ افغانانو ته داسې هيواد را په برخه كړې چې د كال د دولسو مياشتو ځخه په تقريباً لس مياشتو كې روښانه شين آسمان لري او د لمر زريني وړانګي ددې هيواد فضا روښانه كوي .

نن په نړۍ كې د لمر د انرژۍ ځخه چې بې مصرفه او بې لګښته بې پايانه انرژي ده د ګټې اخيستلو ډيرې لويې كارخانې او تأسيسات جوړ شوي او د ملي اقتصاد د پياوړتيا لپاره له هغو ځخه په مؤثره توګه استفاده كيږي ، خو زمونږ په هيواد كې تر اوسه پورې دې اصل ته هيڅ شان توجه نه ده شوې .

د پورتنيو ټكو په نظر كې نيولو سره په ډاډه توګه ويلاي شو چې زمونږ ګران هيواد د طبيعي غنا او ثروت په لحاظ د نړۍ د ټولونه د غني هيوادونو په ډله كې راځي او طبيعي منابع يې لا تر اوسه سر بسته پاتې دي، په دې اساس د هيواد د بيا جوړښت او د ټولنيز ژوندانه د سطحې د لوړتيا لومړي فكتور زمونږ په هيواد كې د ټولې نړۍ د بل هر هيواد ځخه ښه تأمين شوي او ځمونږ هيواد په دې هكله د غني هيوادونو په ډله كې شامليداي شي .

پاتې لري

د شريعت تبصره

د كرهنې د وزارت سيمينار د هيواد د كرهنيز مرګونې حالت د رغيدو په اړه يو اغيزمن ګام دي

د كرهنې د وزارت سيمينار د هيواد د كرهنيز مرګونې حالت د رغيدو په اړه يو اغيزمن ګام دي

اقتصادي رغښت او اقتصادي په ځان وسباينه د يو هيواد د سياسي نظام د استحكام لپاره اساسي فكتور دي بل چاته لاس نيول، بل چاته تمه لرل فرد او ټولنه د ابتذال او انحطاط خواته كشوي او زمونږ د هيواد اقتصادي ستن او اقتصادي شارګ كرنه تشكيلوي يا په بل عبارت زمونږ اقتصادي چارې ۸۵ په سلو كې د كرهنې له لارې اكماليږي خو د دوه ولسيزو د جګړو اور زمونږ د ټولنيز ژوندانه د نورو اړخونو په څير كرهنيز اړخ هم ډير زيانمن كړيدي .

د روسانو او د هغوي د لاسپوڅو مزدورانو د وحشت له لاسه چې زمونږ د پنځه مليونو په شا وخوا كې هيواد وال د خپل وطن پريښودلو او مهاجرت ته اړ شول نو له هغوي خپله مځكه پاتې شوه او كوم هيواد وال چې مهاجر شوي نه وو نو د هغوي په مځكو كې د فصل په ځاي بمونه وكرل شول همدا راز دې جګړې زمونږ د هيواد ويالې، نهرونه، كانالونه، سربندونه ټول له مينځه وړي دي چې دې ورانيو زمونږ هيواد وال له ډول ډول ستونزو سره لاس او ګريوان كړل . خو كله چې په افغانستان كې د طالبانو اسلامي تحريك ډګر ته راووت اود برغلياتو له مشګولونه يې د ملت د خلاصون كلك هوډ وكړ . نو څومره سيمې يې چې په الهي نصرت سره فتح كيږدي نو هلته بې خپل دردېدلي ملت ته تر خپله وسه پوري د هوسا ژوند د تيرولو په لارو چارو غور كيږدي. اوس چې الحمد لله د هيواد په سلو كې ۸۵ برخه د اسلامي تحريك تر كنترول لاندې ده او د هيواد په پايتخت هم د اسلام سپيځلې او له وياړه ډكه جنډه رپيږي توليدل كيږي چې د طالبانو تر زعامت لاندې اسلامي دولت د ملت د هوسايني لپاره هر ډول هلو ځلو ته ملا تړلې ده چې د اطلاعات او كلتور د وزارت لوي سيمينار ، د ښوونې او روزنې دوزارت لوي سيمينار ، د عامې روغتيا د وزارت لوي سيمينار او د كرهنې وزارت لوي سيمينار يې بيلګې ګڼلي شو . موږ په داسې حال كې چې اسلامي دولت اوس هم له كورنيو اوبهرنيو هر اړخيزو ستونزو سره مخ او په تحميلي جګړو بوخت د ي د دوي دا هلې ځلې د ستاينې او استقبال وړ بولو لوي اللهوج ، نه شكر ادا كوو چې دوي نه يې د دا ډول ګټورو سيميناتونو د دايرولو همت او توفيق وركړي چې ارزښتمن تصميمونه بې په كې ونيول موږ په دې باور لرو چې د كرهنې وزارت هم تر خپله وسه د ملت له خدمت نه ځان نه سپموي او له ولس سره به په دې اړه هر ډول فني مرستي وكړي . ددې لپاره چې د افغانستان په اړه د ګاونډيو هيوادونو سياستونه مقطعي او د اعتبار وړ ندي نو په خپله افغانانو او اسلامي دولت ته په كار دي چې په خپلو خولو خپل هيواد اباد كړي دا سمه ده چې اسلامي دولت له اقتصادي ستونزو سره مخ دي او خدمت اقتصادي پشتواني ته اړه لري څو ځيني اړخونه داسې هم شته دي چې په لږ خرڅ او كم لګښت ډير اغيزمن كارونه تر سره كيداي شي . د مثال په ډول د راديو او اخبارونو له لارې د داسې پروګرامونو خپرول چې كروندګرو ته په كې د كرهنې مؤثري لارې چارې په فني ډول ورزده شي هغوي ته مشوري وركړل شي او اوسني سيمينار بې غوره نمونه هم ګڼلې شو .

همدا راز د كرهنې وزارت دې په لومړي سر كې هغه مسايلو ته د لومړيتوب حق وركړي چې لګښت پرې كم راځي او نتيجه بې ډيره ښه وي اوس د كرهنې موسم دي د كرهنې وزارت كولاي شي چې د نيالګيو ، د افاتو ضد درملونو ، اصلاح شويو تخمونو او ... په ويش ، په كورونو كې هيوادوالو ته د كار پيدا كولو لپاره له دوي سره د چرګانو او مچيو د فارم په ځير فارمونو په جوړولو كې مرسته وكړي او دريم قدم كې دې د سر بندونو، ويالو، نهرونو او كانالونو په ترميم او پاكولو د هيواد نيم ژوندۍ كرهنيز حالت را ژوندي كړي . همدا راز كه دولت خپلې فابريكې فعالې كړي او ځني هغه خام مواد چې اوس بې بهرته ليږدوو همدلته وكارول شي نو يو خو به مو خپل ملك بو څه نا ځه له بهرنيو وارداتو نه غني كړي وي او بل به مو څو تنو هيوادوالوته كار هم پيدا كړي وي همدا راز د جلال اباد د فارمونو په څير د مالتهو، زيتونو او ... ځني لوې لوې فارمونه لرو چې اوس متأسفانه د وچيدو په حال كې دي اميد دې د كرهنې د محترم وزارت پام به ورته اوښتي وي .

د كرهنې محترم وزارت كه له هغو موسسو ته مرسته وغواړي چې د زراعت پړ هكله خدمت ته راوتې دي او د هغوي كارونه تر خپل نظارت لاندې راولي نو ډيره ښه نتيجه به وركړي .

دا هم يو ګټور اقدام دي چې د كرهنې وزارت يو زرعي بانك جوړ كړي او له شتمنو هيوادوالو تجارانو او د افغانستان د جهاد له محسنينو نه د وطن د ابادي لپاره مرستې وغواړي او بوازې په كرهڼه كې بې ولګوي خو دا هم بايد وويل شي چې حكومت په بوازې ځان هر څه نه شي كولې او د ولس د متهو زور ته اړه لري نو ولس ته هم يكار ده چې د خپل هيواد د سمسورتيا او ابادي لپاره په خپل تندي خوله راولي او خپل ژوند په خپله تأمين كړي .

په پاي كې هيله لرو چې د كرهنې وزارت له ملت سره هر څومره چې ژر كيداي شي هغه مرستې وكړي چې په پريكړه ليك كې يې اعلان كړي دي او ولس هم د يو روڼ او سمسور مستقبل په هيله له دولت سره اوږه په اوږه همكاري وكړي .

د ادب مرغلري

د هغو شعرونو دوهمه برخه چي د ورى د مياشتى په لومړي نيټه د «شريعت» اوونيزي په مشاعره کى لوستل شوي دي

د جنتونو پسرلي

رازقي ننګیال

وطنه مبارکدا چي د وياړونو پسرلي دي
دا ستا د حماسو او شهکارونو پسرلي دي
شنو پاڼو کي موسکيږي چي څيري د شهيدانو
سلام مي يري، د هسي سرو ګلونو پسرلي دي
ګوزانوکي راشني چي شوبي غوټي د تازګيو
د وچو کانو بوټو او ګلونو پسرلي دي
سولي تاوده لمر چي سيني څيري د تيارو کړي
د سپينو سپينو وړانګو، سهارونو پسرلي دي
په دښتو په رغوکي نوساه وټوکيدله
روان دلته د ښکلو کاروانونو پسرلي دي .
د غرونو له رګونو، نه جاري «اب حيات» شو
اسمان نه د باران د رحمتونو پسرلي دي
غږيږي لاهوتي نغمي په مستو څڅيوکي
س شاره طبيعت د اعجازونو پسرلي دي
لښکرو د توحيد، سپين بيرغونه کړه راپورته
د حق د اتلانو د يادونو پسرلي دي
کندهار او ګندارا چي تر بخدي غاړه غړي شي
تاريخ کي بي د فتحو او تنګونو پسرلي دي
د امن پرښتو زيري راوړي له سپيدو نه
د ژوند د نوي ورځ د ارمانونو پسرلي دي
جلوي د اسلامي تحريک ځلانده په بهار کړي
زړه وايي راته دا : دښو فالونو پسرلي دي
مظهر چي د ښکلا د رنګينيو شوه دا خاوره
په خداي چي تو همدا د جنتونو پسرلي دي
هر بيت کي چي لري وازقي ښکلي پيغامونه
ستا شعر نه نن دا د الهامونو پسرلي دي

لاله زار وطن

عبدالعليم «زندانى»

آمد بوطن بار دگر فصل بهران
هر سو نگري موج زند سنبل و ريحان
آورده چمن نکهت جانبخش که گويي
دارد خبر از واقعه، اشك پشيمان
گرديده بلند بيرق اسلام در اين ملت
زيبنده بود تام خوشش ملك خراسان
هر لاله که سر مي زند از سينه اين خاك
داغ ست همه از طپش خون شهيدان
هر کوه فلکساي تو شد سد سکندر
هر بيشه تست خوابگه و منزل شيران
آموي غريونده بصد صوت و ترانه
خواند سبق رزم و هياهوي نياکان
بر دشمن و دوست ديدي چيها شد که نشد!
انگليس بماند تا به ابد خسته و حيران
اي خصم مکن با روي خود رنجه که آخر
از غيرت ما ارتش سرخ، کلك بدندان
بر پيکر آسيا به يقين قلب از آنيم
همواره بکام است چنين چرخش دوران
اي قوم بخون خفته نگر در دل تاريخ !
اسناد تست بوسه گهي شاه و ايران
آهسته خرام بر سرم اي ملت آزاد
ماتيم کنون کشور از سينه فگاران
خون ميخوريم هر صبح و مسا از غم ميهن
افسرده کند کوه غمم لعل بدخشان
ايدوست بمن از گل و گلزار مگوئيد
زندانيم و دربدر و خسته و حيران

اى لويه خدايه!

نور محمد لاهو

له حباب جوړه مالې مي راته ژغوره
له څپو مانه بيړې مي راته ژغوره
غلو ليوانو وکړ خپل منګوکي کلي
چي په پري نه يدې زموږ کاله کي خلي
د مشرق او د مغرب ټول ترياتونه
سره يو يې کړل خپل واړه غضبونه
غواړي دا مستي ځيري مي کړي راماتي
شمشادي جګي پګړې مي کړي راماتي
غواړي بيامې شتې ريښې کړي د ګل وچي
دا په ويښو پالي سرېکړي د ګل وچي
غواړي وسېزې ګانګو د ماشومتوب مي
غواړي ووژني نيشه د ليونتوب مي
د شپيلي چيغي مي ستوني کي چپه کړي
دا اوريده دښته مي پيغو ته سره لمبه کړي
د خودي توري مي وچ کاندي په ژبې
د بنايست ستوري مي وچ کاندي په ژبې
د سوري شيرشاه تاري ته يې خبر کړي
راته يو مې دا خور شوي شان تېر کړي
دي يې وسې پرېوکئ نه تويان جوړ کړه
د نفاق رنځور د زخم درمان جوړ کړه
دا واړه ګاڼې مي کاڼې د سجيل کړي
هر يو لاس مي راته طيرابابيل کړي
محکوميت راته را پيښ په کاله نه کړي
لويه خدايه خپل رحمت پر موږه وکړي

غزل

ملا اسد الله «حنيفي»

ګلونه په خندا شول د ګلزار موسم راغلي
خزان کډې تړلي د بهار موسم راغلي
ډکيږي او تشيږي د ساقي په لاس جامونه
راځئ ملګرو راشي د خمار موسم راغلي
ګلرنګه اشنا زلفي دي خوري دانه وانه کړه
دي کلي دي کوڅي نه د سينګار موسم راغلي
د هجر مور شوه بوره خوله يي ډکه شوه له خاورو
دوصل شپيي راغلي د ديدار موسم راغلي
غمونه لېږديدلي ماتم پرېوت له ګونګه
خوښي څپه څپه شوه غزلزار موسم راغلي
را پاڅه «حنيفي» چي سره غاړه شو غړي شو
د مينې موسم راغي شکر بار موسم راغلي

زما ارزو

شاه محمود «توحيدي»

خدايه ما په شريعت باندي روان کړې
له بدي او له ګناهي په آمان کړې
توفيق راکړي چي د خلکو خدمتګار شم
په سختي کبعي هر مؤمن لره پکار شم
عدالت مي وظيفه کړي کره ګاره
هم مي وساني د زړونو له ازاره
د ګناه پيټي مي د روند دي بي حسابه
اخرت کښي به ولاړ يم لاجوابه
ستا د ربار نه مي تيولي د واړه لاسه
امان راکړي له بدي نه سم د لاسه
ګنګندن را باندي تير کاندي اسانه
خدايه نه په ما عاجز شي مهربانه
هغه ورځ چي عملونه حسابيږي
خدايه څه به په ماخوارباندي تيريږي
نه هاديې هدايت درڅخي غواړم
هميشه د اخرت په غم کښي ژاړم
دا آرمان او دا ارزو زما پوره که
په قدرت مي له بدي نه کناره که
«توحيدي» مدام کوي درته سوالونه
چي وينا سره يي سم کړي عملونه

چا چي په يو الله...

سيد محمود رسالي

چاچي په يو الله تکل سره بنا کړي ده
داسي امام پسي موږ ټولو اقتدا کړي ده
غليم تر اوسه قرار نه دي له دردونو ژاړي
تاريخ ته وګوره هر وخت چي موږ غزا کړي ده
زموږه اوښکي د چوي چي د پګړو په شملو
داسي مشرانو سره تل موږه وفا کړي ده
دا خو محمود وو چي بتان يي کړل په خاورو بدل
دغسي توره نو تاريخ کي وايه چا کړي ده
چي په الله وشي تکل فتحي بيا سختي نه دي
د اسماعيل ، خليل قصه خپله الله کړي ده
موږ خو د ډيرو امامانو پسي نيت وتاړه
خو کوم امام زموږ په بد حالت ژړا کړي ده
نه د مذهب نه د فرهنګ نه د کلتور پروا وه
له دغي ټولو سره هر يوه جفا کړي ده
«رسالي» نور خو شاله ګرځه د نيک ژوند په اميد
ددين ځلانده لمر په وران وطن رڼا کړي ده

د ژړا په تال کى

صديق الله «بدر»

که تيروم دانه دانه زنده ګي
جوړوم خيال کي شاهانه زنده ګي
مرګه له تاسره د مينې په توم
ده يوه ښکلي بهانه زنده ګي
په ګريوانه لکه د اوښکو هسې
تيريږي ګمې دانه دانه زنده ګي
خو نه داستا چي څنګه ژوند خوښوي
زه خو شوم عاشقانه زنده ګي
د يار له سترګو نه چي لاري ګوري
غواړمه داسي جانانه زنده ګي
بدره چي تال کي د ژړا يي وايم
ده د غمونو ترانه زنده ګي

د سندرو په وزرونو

اسمعيل «يون»

يو عشق مي لويو لو د سندرو په وزرونو
کووم چارانه شهيد کړلو د زخرو په وزرونو
شمله شمله لوګي شو د غره غيرې ځني پوټه
څه اور دي لګيدلي د د ښيترو په وزرونو
يو د پو د قاف د غره په ځنګلونو کي ميشته دي
د ژوند پولي مي وړي د سوداګرو په وزرونو
د ښار د پيغلو خال وړي او د غاړو امېلونه
يو دوه ماران راوړي جادوګرو په وزرونو
څه لوړي د ګلاب ګلاب سروټو په وطن کي
يو اور خو خدايه بل کړي د لوګرو په وزرونو
پرون رمه له غره نه راتلله کلي ته پولاې
څه سره وينه پرته وه د ګور ګورو په وزرونو

د سپرلي موسم

قاري فضل الدين «سراجى»

د سپرلي نوي موسم دي باراتونه راوړيږي
دا ګلان څنګه مو سکي دي دګل پاڼو په ګوګل کي
دغه سيمه چي معطره ده ګلونو څه شپنډلي
د شهيد په مزار ګوره غاټول رڼه په وينو
څه حواتان مو شهيدان شول لا روانه دا لړي ده

زموږ د رب له لوري رحمتونه راوريږي
سپايي بيا په سرو غوټيو شبنمونه راوريږي
که له بلي خوا نه دلته څه عطرونه راوريږي
د اتل له بيرغونو عنبرونه راوريږي
لا تر څو به د افغان په سر بموته راوريږي

سراجي د شاعرانو په قطار کي حساب نه يم
خو د وخت سره په خيال کي څه فکرونه راوريږي

د افغانانو د نوي کال نيکمرغه پسرلي

رئيس خيل

د ۱۳۷٦ شمسي لمريز کال په پيل کيدو سره د افغانانو د نيکمرغه کال لمرني شپي ورځي هم پيل کيږي خو په زغرده باید وويل شي چي د سږني کال پسرلي د نورو کلونو د پسرليو څخه په ډاګه سره توپير لري او دا ځکه چي د سږني کال پسرلي له ځانه سره سوله، آرامي او نيک مرغي راوړي او د لومړي ځل دپاره د کابل پښمن ښاريان او همدارنګه ګران هيواد افغانستان د نورو ولاياتو اوسيدونکي چي د کرامو طالبانو د اسلامي تحريك له خوا فتحه شويدي. د سولي ، امنيت او پوره آرامي په فضا کي ژوند کوي . لکه چي زموږ د هيواد پښمن اوسيدونکي او د سيمي او نړي خلك پوره آګاهي لري د کرامو طالبانو د اسلامي غورځنګ په مرسته زموږ پښمن خلك د تل دپاره د ملحدو کونستانو د شر او فساد له منګولو څخه وژغورل شول او په نړي کي د افغانانو شمله يو ځل بيا هسکه شوه . دا څومره د خوښي او خوشحالي ځاي دي چي د پسرلي د نيك مرغه شپو ورځو له رارسيدو څخه لا د مخه د کابل ښار ، د هغه د شاوخوا سيمو او د ولايتونو څخه وسلي او پوځي تجهيزات راټول شوي اود ټوليدو په درشل کي دي .د کابل ښار په بيلو بيلو سيمو کي د قمار وهلو، غلا قتل او فحشا په خلاف د طالبانو د اسلامي تحريك له خوا په کلکه مبارزه روانه ده او همدا اوس د کابل ښار او د افغانستان نور ښارونه چي د کرامو طالبانو تر تسلط لاندي دي د سولي، امنيت او کارکولو په ښارونو بدل شويدي. لکه چي موږ ټول آګاهي لرو د کابل او د افغانستان په نورو ښارونو کي د امر باالمعروف او نهي عن المنکر د اصولو او شرعي قوانينو له مخي د جايتکاراتو سره د شريعت غراي محمد«ص» د حکمونو سره سم چلند کيږي . له نيکه مرغه زموږ پښمن خلك د تاريخ په دغو نازکو شيبو کي پخپل افغاني هوډ او تاريخي رسالت باندي په پوهيدلو سره د هيواد د بيارغاوني له پاره چي د کمونستانو د شر او فساد د ځواکونو د ناپوهي په اثر په کنډواله بدل شوي دي د جوړونکي کار او فعاليت دپاره چمتو شويدي د مثال په توګه په لومړي ګام کي په زرګونو او ميلونو نو ثمر لرونکي او بي ثمره نيالګي ايښودل شوي، د کوڅو او پس کوڅو د پاکولو او همدا رنګه د سړکونو او پارکونو د جوړولو او ترميمولو کارونه په بيړه روان دي . له نيکه مرغه د کرامو طالبانو د اسلامي تحريك د واکمني په دوران کي د افغانستان د خلکو په مقابل کي هيڅ ډول قومي، مذهبي، ژبني او سمتي توپير او تبعيض نشته او غيرتي افغانان هر چيري چي اوسيږي په مطمئن او ډاډمن زړه خپل کار و بار ته دوام ورکوي . د کرامو طالبانو د اسلامي تحريك په بريالي کيدو سره د هيوادوالو ډيرو مهمو او اساسي چارو ته پوره پاملرنه وشوه چي د هغو په جمله د عامي روغتيا ، ښوونې او روزنې، امنيت او د بريښنا د انرژي په برخه کي تر سره شوي کارونه د يادولو وړ ګڼل کيږي. زموږ د خاوري غليمان په اوس وخت کي پدي پوهيږي چي انشاء الله ژر به د ګران افغانستان په ټولو فتحه شويو سيمو کي په نژدي راتلونکي کي د سولي، ارامي او امنيت په ټينګيدو سره خلك د نيکمرغه ژوند خاوندان شي .

ومن الله التوفيق

پليګون
مشهد مقدس قربانيان انقلاب اسلامي

د پليګون په سپيڅلي مشهد کى

قاضي محمد حسن «حقيار»

باغي احساس مي سر کمند کي کيښود — کيږي پيرزو پر ما وصال د ګلو
د څرخي پله او پليګون د مشهد — کړمه وياړمن يي په ديدار د ځلو
* * *
ستر شهيد زما د انقلاب لاربنود — مانه دا وويل د حال په ژبه
ترجماني زما د هيلو وکړئ — هم د اقبال هم د ابدال په ژبه
* * *
تجديد د عهد نه مزار ته راشئ — د پليګون د نغمو شور ويسئ
چي تل مو پاتي وي د ياد اينه کښئ — له دغه ځايه يو انځور ويسئ
* * *
د «غر ناطي» د ناوي جر وريل بيا — لتا خپل ځان سينګارول غواړي
بيا د اقصى ملکوتي وزري — يثرب فضا کي الوتل غواړي
* * *
د صفيي«رض» توره د ملالي ليږه — يو ځلي بيا تکرارېدل غواړي
هم د خندق هم د ميوند د زلمو — ويدي جذبي بيا بوګنول غواړي
* * *
ابن زياد، ابن زياد، ايوبي ! — ساندي د خويندو مي فضا کي خوري
د غزنوي د پت او شان وارثه — کشمير کي بيا شول عفتونه اري
* * *
ځاي د رکوع دي په جنت ولېسه — ته مقدس ښکلي مرام لري
که ويني شي بيا به شور او زوږجوږ کړي — ته شانه داسي عظيم قام لري
* * *
د جنتي ويمو خوشبويو څپو — زما تخيل ته دا الهام راکاوه
ولي وينه يئ منتظر چانه يئ؟ — مانه يي داسي يو پيغام راکاوه
* * *
د اسلامي عظمت زړي کړيئ — په تينداك شوي دي وحدت غواړي
په حبل الله يي بيا پيوند دي حتمي — دا ولسونه حريت غواړي
* * *
دا په شا تللي دښمن پريښودي — بس پاتي ده د څو شپو خبره
بووئ د مکر دي ده سر نه تاشنه — درته کوي د اللو خبره
* * *
زما ضمير داسي ځواب ورکړ — زه دي په طمع د وصال يمه
ګيردي نړئ سره محسن شهيده — لار به دي پالم شهيد پال يمه
* * *
د عقيدت څو پيرزويني خپلي — نذرانه تا نه پيش کول غواړمه
د نړئ بام نه خپلو کريکو باندي . — ارواح را بولم تا تماشګل غواړمه
* * *
سونږ چي ژوندي بوهسکي سترګي ګرځو — تا د حمزه د توري شرنګ راوړي
که بيا تازه شوه حسيني کربلا — دلته خو هم ستا وينو رنګ راوړي
* * *
ستا د عظمت ولولو شور جوړ کړ — وي لړزول ټول طاغوتي ځواکونه
چي تسلسل دي د احساس خوندي وي — دلته راغلي ايوبي قوځونه
* * *
اي ډير عزيز خو اوس محکوم مسئله!! — راشئ چي بيا صليب په دار ځړوو
چي د شهيد د وينو پور ادا کړو — د خپل جهاد هر يو غدار ځړوو
* * *
ستا فيضاني ويمي که نه کړم خوري — زه به «صرصر»يمه بهار نه يم
ستا په کاروان کي که کمښت محسوس شي — بيا خو به زه هم د «حقيار» نه يم

پليګون ډله ايزه وژنه او د کمونستانو يوه بله رسوائي

محمد عزيز

که څه هم د کمونيزم فکر او فلسفه د نړي په مخ نده پاتي او ددي اړتيا هم نه ليدل کيږي چي دغه کرغيړنه اصطلاح تحليل او تجزيه شي خو بيا هم د کمونستانو دوحشت ظلم تعذيب، زوروتي او انسان وژني يادونه او خاطري د ملتونو په ذهنونو کي پاتي دي تر لازمه ده چي بايد د تاريخ په هر دورکي د ددغه فاسد نظام په تيرو کړو وړو باندي يوه تبريدنه وکړو د کمونيزم غير انساني نظام چي کله منځ ته راغي د نړي جغرافيايي د يو لوي بدلون سره مخامخ کړه کمونيستي مفکوره چي د څو لنډ يهودي نسله جابرو د انسان په جامه کي ليوانو يي بنسټ کيښود د دنيا پر مخ يو نوي ډول د کړاو او شکنجي دور پيل شو ملتونه ني يو د بل پسي د منځني اسيا تر ختيځي اروپا پوري په پرليسي ډول تسخير او د تيزي په زوروني د خپل استبدادي يوغ لاندي راوستل دنيا والو لا د دوهم نړيوال جنګ سټي با نه وه ليري کړي او د خپلو بچو وير و ماتم ني نه وسوږ شوي چي د سره وحشت بشري ضد طوفان سره مخامخ او لاس ګريوان شول .

انساني ټولنو ته ني داسي ټپکان ورکړ چي تير تاريخونه يي هلك پك کړل . کمونيزم دومره غربت، نيستي، بيچاره ګي منځ ته راوړه چي ساري يي ندي ليدل شوي لوټماري، زنا ، زورګيريي او بد اخلاقي ورځيني معمول وګرځيده .

موږ ليري ته ځو او زموږ په اسلامي هيواد افغانستان کي يي کړنه تر نظره تيروو و به ګورو چي زموږ په مسلمان هيواد کي يي پدي خوارکي مظلوم ملت باندي څه تادودي وکړي .

افغانستان چي د سياسي جغرافيه يي له پلوه د اسيا د زړه حيثيت لري د غني معدني موادو ذخيرو په درلودلو سره روسي مغروره حاکمانو د کلونو کلونو نه را پديخوا دي هيواد ته سترګي پټي کړيوي د يو خوانه خوږي اقتصادي منابع غنيمت ګڼلي وي او له بله پلوه يي غوښتل چي ځان ګرمو اوبو ته ورسوي چي بالاخره يي ددي ارمان د ترسره کولو لپاره د خپلو زرخريده مزدورانو په وسيله کودتا وکړه او يو تعداد معلوم الحال پردي يي د اقتدار په ګدي کينول .

کله چي افغاني کمونستانو د افغانستان سياسي او نظامي واګي د خپل بادار په ملاتړ په لاس کي ونيولي نو ددي مسلمان ملت د اسلامي فرهنګ دود او دستور په خلاف يي د بادار په اشاره داسي ناوړه کارنامي تر سره کړي چي د چا په ذهن کي هم نه وي . کمونستانو ددي اسلامي هيواد ټولي مادي او معنوي ګنهي تر پښو لاندي کړي يي عفتي يي رواج کړه اسلامي تعليم يي په الحادي تعليم بدل کړ ټول پوهان علماء کرام انجنيران، ډاکټران، محصلين او حتي دهقان او کارګريي يا خود تيغه تير کړل او يايي د ملك پريښودو ته مجبور کړل .

زندانونه يي د ملت د مسلمانو پرګنو نه ډك کړل زراعت او مالداري يي د منځه ويوړي اقتصادي زيرمي يي د پرديو لاس کي ورکړي پنځه ميليونه افغانان يي بي کوره کړل د کور کالي ډوډي او قانونيت، مصؤنيت او عدالت د شعار لاندي يي په زرګونو انسانان د اعدام کړيو ته وسپارل ډله ايزه وژنه يي پيل کړه چي ژوندي بيلګه يي د پليګون قتلګاه (مشهد) ده .

پليګون چي زموږ هيواد وال به يي کيداي شي څه ناڅه د نوم سره اشنا يي وليري د کمونستانو د وژلو او ژوندي ښخولو، تعذيب، زجر او زوروني ځاي دي په پليګون کي کمونستانو هغه څه تر سره کړل چي نه په منځني اسيا کي شوي او نه په نوره نړي کي کمونستانو د خپلو روسي اشغالګرانو په امر زموږ د مسلمان ملت مسلمان بچي د اسلام په جرم په پليګون کي پداسي زړه لړزونکي ډول د خاورو لاندي کړل چي د انسان عقل ورته حيران پاتي شو .

کمونستانو او د سره استعمار نوکرانو د خپل بادار د خوښي لپاره پيلګون د مجاهدو مسلمانانو نه ډك کړاو ډله ډله يي هلته يا خو په ګوليو غلبيل غلبيل کړل او يا خو يي په فجيع ډول ژوندي د خاورو لاندي کړل .

د پليګون تراژيدي چي د ملت د سترګونه پناه او پټه وه او دغه دردونکي جنايت چي يي فرهنګه کمونستانو تر سره کړ څوارلس کاله وروسته کله چي د نجيب ظالم نظام د مجاهدينو په قوي متو او د خداي په مرسته نسکور شو نو دوه کاله وروسته دا حقيقت په ډاګه شو چي زموږ خوار او مظلوم ولي د ايمان په وسله سمبال ملت بچي چيرته او څه شول .

په پليګون کي داسي لوي مشهد کشف شو چي په زرګونو د شهيدانو ککري او د بدن ټوټې ټوټې غړي پکي وليدل شول ددي مشهد په ليدلو سره د ټول ملت پوښتني ځواب شوي او دغه معما حل شوه . په پليګون کي داسي تريخ حقيقت وليدل شو چي چا ليدلي نه وو هلته وليدل شول چي انسانان په څه ډول د خاورو لاندي شوي وو هلته د شهيدانو ککري وليدل شوي چي سوري سوري وي هلته د شهيدانو لاسونه وليدل شول چي لاذولني پکي پرتي دي او بالاخره هلته په پليګون کي داسي مبارك جسدونه وليدل شول چي خولي يي د خاورو ډکي وي او دا شاهدي يي ورکوله چي ژوندي ښخ شوي دي .په پليګون کي د وژني هدف دا وه چي د اسلامي دعوت اواز ترابده پوري چوپ کړي او کمونستان خپلو اشغالګرو دوستانو ته د خپلو استعماري اهدافو د تر سره کولو لپاره لاره هواره کړي .

خو د افغان مسلمان، اتل، ميړني مجاهد ولس په ټينګ عزم، کلکه اراده قاطع تصميم او فولادي ايمان سره ددغه سره قطبي خرس مقابلي ته په سپين ډګر راووتل او دغه وحشي او ځناور د وخت په مدرنو وسلو سنبال مادي قوت يي داسي ډړي وړي کړل چي د ابد پوري به بيا سر پورته نکړي شاباس دي وي د مسلمانو افغانانو په اتلواله چي د اسلامي جهاد رڼانده بيرغ يي د تل له پاره وياړمن او اوچت وساته .

همدا افغانان وو چي د سري امپراطوري د کاذبو پلويانو خيالي جنت يي له منځه ويوړ که څه هم دي مسلمان ملت ته جبرانيدونکي تاوانونه پدغه لاره کي تحمل کړل او هر څه يي د اسلام لپاره په عالي همت قبول کړل خو خپل هدف ته چي اسلامي شريعت وه ځان ورساوه او دغه منزل يي د ډيرو سرونو په بيه پاي ته ورساوه .

د کانونو او صنایعو سرپرست وزیر محترم الحاج مولوي احمد جان له ...

الحمد لله افغانستان کي له دري پر غلورو ته ډیرو برخوکي بشپړه امنیت تأمین شویدي بهرنیان او بهرني موسسې هم مطمئني شویدي چي اوس دلته کار کولي شي نو د بریداس د ارجنټاینې کمپني او د یونیکال امریکایي کمپني (چي د سعودي حتي ششمن خلك او کمپني له دي د واړو کمپنیو سره شریکي دي او تمویل یې کوي) استازي موږ ته راغلل او د پایپ لاین تیرولو غوښتنه یې وکړله د دواړو کمپنیو استازو موږ ته دا ویلي دي چي موږ افغانستان ته امتیازات ورکوو خو موږ ورته وویل چي موږ له هغه چا سره قرار داد کوو چي د افغانستان دې مظلوم او بیچاره ولس ته ډیر امتیاز ورکړي موږ ته د واړه کمپنې یوشي دي خوځکه چي افغانستان در په دره دي، برېښنانه لري، ګاز نه لري نو بهرني پانګوال خو څه چي خپله افغاني پانګوال هم دلته راتللو ته زړه نه ښه کوي نو موږ ورته وویل چي هره کمپنۍ له دې ناحیو نه افغانانو سره ډیره مرسته کوي او ژر کار پیل کوي موږ ورسره قرار داد کوو. دیونیکال امریکایي کمپني وویل چي د دوي په اصطلاح امنیت او د نماینده حکومت راتللو ته انتظار کوو او بریداس وویل چي د پایپ لاین د تیریدلو په ساحه کي چي امنیت وي موږ ته کفایت کوي موږ سیاسي ملحوظاتو پسې نه ګرځو.

نو موږ له دې هیئتونو سره خبري کړیدي او ډیر ژر به ان شاء الله په دې پایپ لاین کار پیل شي چي دیرش زره افغانان به په کې په کار مصروف وي او سه تنخواه به ورکوي همدا راز له کومو لارونه چي دا پایپ لاین تیریږي هغو ښارو ولایاتو ته به ګاز ورکوي د نوي تکنالوژۍ له مخې د برېښنا د تولید ارزانه ، اسانه او کامیابه لاره د ګاز په واسطه د برېښنا تولید ده او موږ له دوي سره قرار داد کړیدي چي د ګاز پواسطه به دې ولایاتو ته برېښنا تولیدوي دوي دا هم ویلي دي چي دوي به ټول افغانستان ته برېښنا ورسوي حتی کوښښ به وکړي چي ډیره برېښنا تولید کړي چي په نورو هیوادو بې هم ویلورو .

موږ منتظر یو چي د بریداس د کمپني یو هیئت به په راتلونکو شلو ورځو کي دلته راشي او حالات به وګوري او په جزیاتو به سره توافق وکړو او له توافق وروسته به سمدستي ټول کار روان شي .

پوښتنه : د اوریدلو له مخې د غزني په ولایت او نورو ولایتونو کي د تیلو ډیري ذخیري راوتلي دي تاسي ددې ذخیرو د سروې او استخراج لپاره څه اقدام کړیدي ؟

ځواب : تیرو حکومتونو چي د جیالوژۍ کومې سروې تر سره کړیدي د هغوي له مخې په هلمند، کجواز، هرات او د شمال په سیمو کي ډیر تیل شته دي خو په دې پروسه د روسانو ډیر نفوذ وو حتی د کجواز په سیمه کي چي یوې فرانسوي کمپني څه نا څه کار کړي وو نو روسانو ورته اخطار ورکړ چي هغوي هم خپل کار بند کړ .

همدا راز د هرات په اسلام قلعه کي د تیلو ډیري چینې راوتلي دي چي همدا اوس بې خلك په ښېمونو کي کوروته وړي . ان شاء الله چي په دې ذخیرو به ژر کار پیل کړو .

خو د سهلایت له لاري په سرپلي کي ډیري ذخیري کشف شویدي چي موږ د بریداس کمپني هیئت هلته هم وروستي دي هلته د سروې جیالوژۍ له مخې په ډیره پیمانه تیل شته دي چي ان شاء الله ډیر ژر به پري کار پیل کړو او له خداي (ج) نه هیله لرو چي د افغانستان ټولي ټني خرابي به همدي ستونزمن وخت کي افغانانو ته راوباسي .

پوښتنه : داسي اوریدل کیږي چي ننګرهار کي نوي کانونه کشف شوي دي تاسي په دې اړه څه وایئ؟

ځواب : په ننګرهار کي له پخوا نه ډیر کانونه کشف شویدي لکه په اچین کي شوکلي د شیرزادو د ولسوالي په ماماخیلو کي همدا راز د ببرو چودکان په شمول چي بوګرام یې په ۵۰۰۰ کلداري پلورل کیږي ، د کبریت او بوټول نیره چي بطري کي تري کار اخستل کیږي کانونه نوي کشف شویدي. او هغه کانونه چي پخوا کشف شوي وو لکه داچین شوکلي چي پخوا به د ولسي خلکو لخوا په غیر فني ډول راویستل کیدل او یو ټن به په دري سوه کلدارو پلورل کیده اوس موږ کنټرول کړیدي د سیمي خلك مو په کار اچولي دي او یو ټن مو په دولس نیم سوه کلدارو قرار داد کړیدي، همدا راز د شیرزادو شوکلي د ځنو قوماندانانو لخوا ټن په یو نیم سل کلداري پلورل کیدل خو موږ په ۶۲۰ کلدارو قرار واد کړیدي ، ځکه نور کانونه هم شته چي پخوا په ډیره کمه بیه قرار داد شوي وو او خرڅیدل خو موږ تر خپل کنټرول لاندي راوستي دي .

همدا راز د خوږیانیو د ولسوالي د پښنګ په ګجر به ان شاء الله چي همدي ورځو کي کار روان کړو چي په دې کار سره به د ګجر له واردولو نه غني شو .

پوښتنه : که د خوست د کرومایټو او هرات د بیرایټو، د لوګر مس عیناك او شامقصودو په اړه معلومات راکړئ مهرباني به مو وي .

ځواب : شامقصود که څه هم ډیر بازار نه لري خو بیا هم مناسب پیرونکي لري او د ریاتي په وخت کي دا کان د دوه کالو لپاره په ۳۳ لکو افغانیو ورکړل شوي وو خو موږ پري داوطلبي اعلان کړه ، چي اوس مو په یوزراولس لکو افغانیو ورکړیدي .

دري نور کانونه یې هم کشف شویدي چي په هغوي مو هم د داوطلبي اعلان کړیدي .

د مس عینك کان پخوا کشف شویدي او روسانو تري ډیر څه وړي دي موږ د بریداس کمپني هیئت هلته وروست هغوي دا مس ډیر خوښ کړل . دې هیئت موږ سره وعده وکړه چي په شل ورځو کي به یو هیئت راولیږي او له افغاني انجنیرانو سره یو ځاي به دلته پلټني پیل کړي او استخراج به یې پیل شي .

د هرات د بیرایټو کان هم پخوا کشف شوي وو ډیر کار هم په کي شوي دي او روسانو له دې ځاي نه هم بیرایټ وړي دي او په خپل طبیعت یې استعمال کړي وو خو داسي نه وو کارول شوي چي پیسي یې د ملت په درد وخوري موږ اوس ددې کان په هکله د بریداس ، ایټالیا او سعودي له کمپنیو سره خبري کړیدي هغوي دیته تیار دي چي دا کان واخلي او ژر به پري کار پیل شي .

دخوست کرمایټ اوس کشف شویدي او د سیمې ځیني خلکو چي په اهمیت یې نه پوهیدل په خپل سر له دې کان نه ناوړه ګټه اخستله او په ډیره کمه بیه یې پلورل بیا موږ نه ددې سیمې خلك راغلل او خبر یې راکړ موږ هغه سیمه تر خپل کنټرول لاندي راوسته او په دې اړه مو د ایټالیا ، چین او جاپان له ځنو کمپنیو سره خبري وکړي د جاپان کمپني له دې کرومایټو سره خپله علاقه وښوده پرون یې موږ ته خبر راکړ چي موږ به په همدي ورځو کي هلته یو هیئت درولیږو چي دا کان له نږدي وګورو بیا به ورته په افغانستان کي کارخانه جوړه کړو چي کروم یې له نورو موادو جدا کړو او بیا به یې په بین المللي قیمت خام مواد ورڅخه واخلو . زموږ ترجیح دا ده چي دوي همدلته کار پیل کړي ځکه چي افغانانو ته به کار هم پیدا شي .

پوښتنه : که تجاران وغواړي فابریکي فعالي کړي تاسي ورسره څه مرسته کوئ؟

ځواب : موږ څو ورځي وړاندي له تجارانو سره د خبرو لپاره د مولوي سیف الدین په مشرۍ یو هیئت هم پاکستان ته لیږلي وو او څو کرتي مو د مطبوعاتو له لارې هم تجارانو ته خبر ورکړي دي چي افغانستان وران دي مصنوعات نشته کارخانې خرابي دي. په افغانانو باندي له هر خوا بندیزونه لګیدلي دي او بل دا چي افغانستان خو لوی تجارتي مرکز وو راځئ چي بیا تري تجارتي مرکز جوړ کړو. نو راشئ کارخانې جوړي کړئ او زموږ مرسته ورسره داده چي هغه محصول چي معمولاً په نورو(حتي پر مختللو) هیوادو کي هم له کارخانو نه اخستل کیږي له دوي نه بې نه اخلو په اکثره هیوادو کي تر خپلو مصارفو ټکس پري زیات وي موږ بې تري هیڅ نه اخلو همدا راز په ښار کي د کارخانې لپاره ځمکه پیدا کول ډیر سخت وي - بیه بې ډیره لوړه وي موږ د کابل په ښار او نورو ښارو کي د صنعتي پارك په نوم ځمکي لرو موږ تجارانو ته وعده ورکوو چي که هغوي دلته پانګه واچوي نو په صنعتي پارك کي ځاي ورکوو .

پوښتنه : د کابل ښار صنعتي پارك خو برېښنا نه لري تاسي ددې ستونزې د حل لپاره څه کړیدي ؟

ځواب : موږ د وزیرانو د شورۍ په بیګاني غونډه کي هم دا خبره وځیړله او په اتفاق سره پریکړه وشوه چي اوس د سروبي، نغلو، او ماهیپر برېښنا کوڅونه فعال شویدي او د برېښنا د کمښت مشکل حل دی نو صنعتي پارکونو ته دي هر څومره ژر او په هره طریقه چي کیداي شي برېښنا ورکړل شي نو موږ تجارانو ته زیري ورکوو چي صنعتي پارك ته به ډیر ژر برېښنا جریان پیدا کړي .

پوښتنه : محترم وزیر صاحب که افغانستان د نړۍ لخوا په رسمیت و نه پیژندل شي نو ایا سوداګر به دي ته زړه ښه کړي چي دلته کارونه پیل کړي ؟

ځواب : زه افغاني سوداګرو دا ویل غواړم چي افغانستان خو زموږ کور دي که بهرني سوداګر زړه نه ښه کوي نو په موږ خو فرض دي چي خپل وطن اباد کړو د دې اکثر هیوادونه اوس د سکیلاك په شکولوکي لویدلي دي او ددوي له اشاري پرته هیڅ هم نه شي کولي خو موږ بیا هم داسي لاري چاري لټوو چي خلك مو په رسمیت وپیژني .

دوهمه خبره دا ده چي که مو څوك په رسمیت و هم نه پیژني نو موږ ته هیڅ مشکل نشته ځکه افغانستان د معدنی ذخیره ده معدنیات بې تازه دي چاپري نه ته دي کړي او اوس هغه شیې تللي دي چي خلك دي صنعتي هیوادو پسې روان وي ځکه هر هیواد کوښښ کوي چي خپل صنعت وړاندي یوځي د مثال په توګه شاید جاپان نور دیته اړه و نلري چي له بهرنه صنعتي مواد وارد کړي . همدا راز پاکستان ممکن دوه دري کاله وروسته موږ بالکل وارد نکړي او په خپل ګمان ویسا و اوسي اوس ډیر ارزښت کانونو ته ورکول کیږي او ډیر هیوادونه خپل کانونه نه لري او دیته اړ مني دي چي له هغو هیوادونه چي کانونه ولري دا مواد وغواړي . الحمد لله زموږ هیواد کي دومره معدنیات دي چي ویستلو نه یې نه شو رسیدلي دا اکثر کانونه پخوانیو حکومتونو نه تثبیت نه وو څو موږ نه له لیري لیري ځایونونه خلك راغلي او د نوير کانونه مو خبروي . دوي وایي چي دا کانونه موږ نه پخوا هم معلوم وو خو پخواني حکومتونو بې ځایه مصروفول او دا حکومتونه د ملت نماینده حکومتونه نه وو هر څه یې خپل جیب کي اچول او موجوده حکومت خو زموږ خپل حکومت او د زړه غوښتنه ده .

او زموږ په نه رسمیت پیژندلو کي یو مشکل د دوستم وجود هم دی له الله ج نه هیله لرو لکه څنګه یې چي نور ملحدین لیاه کړل ، دی هم تباه کړي چي زموږ د شمال وروڼه یې چي په جهاد کي یې زموږ نه ډیري ستونزي زغملي دي له شر به خلاص شي .

پوښتنه : د صنایعو د ترمیم په اړه مو څه اقدام کړیدي او ایا دا فابریکي به شخصي وي که دولت به یې چاري پر مخ بیایي ؟

ځواب : موږ چي له محترم عالیقدر امیرالمؤمنین ، سرپرستي شوري او ځو یا تجربه و سوداګرو سره مشوري کړیدي او د پخوانیو معلوماتو له مخې چي زموږ سره په وزارت کي موجود دي دي تشخیص ته ورسیدو چي دا فابریکي په اجاره ورکړو ځکه موږ سره چي معلومات پراته د هغې له مخې ډیره سه هغه فابریکه ده او ډیر کار هغې فابریکي کړیدي (بې له یو یا دوه او څخه اچي د خپلو ماموریتو تنخواه یې پوره کړي وي نوري ټولي فابریکي په حکومت تاوان وي او د تصدې په ځاي یې سیبایوي حیثیت خپل کړي وو .

نو موږ دا مناسب وګڼله چي که دا فابریکي په اجاره ورکړو نو هر څوك چي به کوښښ کوي چي فابریکه یې ډیر جنس تولید کړي په دې ډول به مو د وطن د ابادۍ په لور هم یو ګام اخستي وي . ځکه یو کرونډ ګر چي خپله ځمکه کري نو شپه او ورځ په کي کار کوي مګر یو مزدور محدود وخت کار کوي که بیا هر څه پیښیږي د ده پروا هم پري نه وي نو موږ ټول تجارانو ته یو ځل بیا اعلان کوو چي راشي او فابریکي وګوري او دا طلایي چانس له لاسه ور نه کړي او همدا اوس مو د څرخي پله د مرمرو اوزخانو فابریکه همدا راز د هلمند حجاري او تجاري فابریکي هم تجارانو ته په فیصدي ورکړیدي ، ان شاء الله تجارانو ته به دا له دې ګټور تمام شي چي لمړي مګکه پیدا کړي بیا بې څو کلونه په ډیر تاوان ووانوي، بهرسه ملکونو له په ډیرو پیسو انجنیران راولي نقشي راوړي بیا کار پیل کوي اوس خو هر څه تیار دي برېښنا شته یوازي ترمیم ته اړه لري فکر کوم چي دا لاره دوي ته ډیره اسانه او ډیره ګټوره ده .

پوښتنه: د کانونو له عوایدو سره څه کوئ؟

ځواب : د کابل له فتحي مخکي مود کانونو د عوایدو یوه برخه به خپله په کانونو مصرفیدله او یوه برخه مو پسي قندهار کي اسلامي اداري او د قندهار بانك ته سپارله او د کابل له فتحي وروسته د ټولو قراردادونو پیسي په قانوني ډول د افغانستان بانك ته تسلیمو او دولت یې چي هر چیرته مناسب ووېني مصرفوي .

معذرت لیک

په تیره ګڼه (۶۲)کي سهواً د لوړو تحصیلاتو د وزیر محترم مولوي حمد الله «نعماني» نظر د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د نشراتي معین محترم مولوي رحیم الله «زرمتي» له نظر سره یو ځاي چاپ شویدي هیله ده زموږ معذرت ومني او پدې ډول یې ولولئ :

د لوړو تحصیلاتو د وزیر مولوي حمد الله نعماني نظر

لکه څرنګه چي مـا واوریدل او د ځوان نسل جذباتو ته ګورم نو سل په سلو پدې باور یم چي موږ هم فرهنګي او جهادي سنګر ساتلي شو .

دې مشاعرې د شاعرانو په تشویق کي مهم رول ولوباوه

د افغان اعلاتانو د تصدۍ د رئیس محترم مولوي عبدالسلام «اعظمي» نظر:کومه مشاعره چه د شریعت اوونیزي لخوا جوړه شوي وه ریښتیا چي ډیره په زړه پوري او ګټوره وه ځکه چي په دې مشاعره کي اکثره شعرونه د جهاد او د وطن په اړه و د خلقو اذهان روښانه شول . د دښمنانو ددې پروپاګند مخه ونیول شوه چي ویل به یې طالبان له فرهنګ سره مینه نه لري همدا راز خلك ډیر تشویق شول په اینده کي هم د دا ډول مشاعرو د جوړولو هیله کوم خداي دي د شریعت اوونیزي کار کوونکي بریالي لري چي نور هم ادیبان تشویق کړي او له فرهنګ سره نوره هم مینه پیدا کړي.

اعظمي

به اثر یک کاري یک جوي...

ریاست انکشاف دهات و همکاري مردم آن ولسوالي توسط ماشین آلات عصري اعمار ګردیده بیش از سی جریب زمین را در یك وقت آبیاري نموده و همچنان بیش از پانزده هزار خانواده از آن استفاده به عمل مي آورند .

جوي متذکره که داراي پانزده متر بلندي و چهار متر عمق میباشد طور اساسي و پخته اعمار ګردیده است .

با تأمین صلح و امنیت در اکثر ولایات کشور زمینه هر چه بیشتر کشت و زراعت فراهم ګردیده و دهاقین کشور ضمن قدرداني از توجهات دولت اسلامي افغانستان در فضاي صلح و آرامش با علاقمندي مصروف کشت و زراعت خویش اند .

د هیواد د دري ګونو ...

داسي حال کي چي د مقتول وارثان او د کندهار په زرګونو تنه دیندار ښاریان حاضر وو د هیواد د دري ګونو محکمو شرعي حکم او پریکړه پري باندي تطبیق شوه .

په کندهار کي تل غیر ...

مربوط خبر ځاي پدې هکله وویل دغه ټانکونه له بیلابیلو ولایتونو څخه را ټول او ترمیم شوي او اوس د دې توان لري چي د کمونستي عناصرو په شیطاني ځالو باندي ګمبونکي ګوزارونه وکړي .

علماء روحانیون ...

دور بابا به همین ارتباط دایر ګردیده بود علماً «روحانیون، بزرګان اقوام و نمایندګان اهل تشیع شرکت ورزیده بودند. سخنرانان از صلح و امنیت مطمئن که توسط دولت اسلامي در کشور تأمین شده است ابراز امتنان نموده وعده هرګونه همکاري و از خود ګذري را با دولت اسلامي در جهت تأمین صلح و امنیت سراسري و تنفیذ شریعت مقدس محمدي در کشور ابراز نمودند .

صد ها میل اسلحه ثقیل ...

بي ام یك ۹ دستګاه ،بي ام ۱۲ (۳) دستګاه ،دهشکه ۱۹ میل ، پیکا ۵ دستګاه، زیکویك۱۲ دستګاه، راکت ۵۶ قبضه، ګرینوفه۸ میل ، ماشیندار ام. سي ٦ میل، ماشیندار ام سي.٦ میل، ماشیندار اي .کا.اس ٤ میل ، برنو ۳ میل، کلاشینکوف ۱٤۳ میل، هاوان ۹ میل، کره بین ۱۲میل، تفنګ صد تکه ٥ میل، تفنګ هفتاد تکه ۲ میل ، تفنګ چهل تکه ۲میل، تفنګ بیست تکه ۱ میل، تفنګ یازده تکه ۱٤ میل، تفنګ ده تکه ٤ میل، تفنګ پنج تکه ۲ میل، تفنګ یك تکه ٥ میل، پیشه۲۳ میل، تفنګچه ۱۲ قبضه، هفده میل سلاح هاي مختلف النوع و صد ها صندوق مهمات مختلف النوع میباشد که بعد از جمع آوري به دیپو هاي اردوي اسلامي انتقال داده شد

پنج عراده وسایط ...

جنایي وزات امور داخله یك مقدار ادویه طبي و سامان آلات اورتوپیدي و جراحي را از نزد ممتاز فرزند الله محمد که قبلاً از شفاخانه جمهوریت به سرقت برده شده بود در مربوطات ناحیه یازدهم شهر کابل دستګیر نموده قضایا تحت تحقیق قرار دارد .

جریان برق در ...

کارګران و انجنیران ریاست برق کابل دو باره به حالت عادي برګشته و ضمناً یك پایه برج برق جدیداً مونتاژ ګردیده و جهت استفاده قطعات مربوط به بهره برداري سپرده شد .

نخستین پرواز حجاج افغاني به ...

یك منبع مسؤول حجاج به خبرنګار ما ګفت:در سال روان مجموع حجاج افغاني، (اعم از مرد و زن) بالغ به (٦۳۰۰) تن رسیده است . که از این جمله به تعداد(۵۰۰۰) حجاج ما از طریق پرواز هاي مستقیم طیارات شرکت « د آریانا افغان الوتنه » از میدان هوایي بین المللي کندهار و به تعداد (۱۳۰۰) آنان از طریق میدان هوایي بین المللي کابل به صورت مستریح به صوب جده انتقال داده خواهند شد .

وي افزود : در سال جاري مصارف کرایه في نفر ، حدود (۱۵۰۰$) تعیین شده است .

وي رقم عازمین حجاج افغاني را در سال ۱۳۷٦ ، نسبت به هر سال، بیشتر نشان داده ؛ ضمناً با استفاده از فرصت از دولت اسلامي شان تحت قیادت عالیقدر امیرالمؤمنین، اظهار سپاسګزاري و قدرداني نمود که تسهیلات انساني و اسلامي هر چه بیشتري را در این امر براي حجاج افغاني مبذول و فراهم ساخته اند.

سنګ تهداب یك باب ...

مولوي محمد هاشم و محترم مولوي عبدالله جان بالترتیب پیرامون اهداف و برنامه هاي دولت اسلامي در عرصه انکشاف و رشد معارف کشور جهت تربیه سالم اولاد وطن صحبت نمودند .

یك منبع مربوط ګفت : این مدرسه که به همکاري اهالي معارف پرور ولسوالي نادعلي ولایت هلمند بصورت اساسي اعمار میګردد در آن بتعداد ۱۲۵۰ تن طلاب تحت آموزش و پرورش قرار داده خواهد شد .

حد شرعي در حق ...

خبرنګار ما افزود : قبل از تطبیق حکم محکمه، حارنوال مربوط حکم قاضي محکمه، چګونګي قضیه و صورت دعوي را براي حاضرین ابلاغ نمود .

از اینکه عبدالله جان توسط شوهر این زن قبلاً بدون حکم محکمه ، توسط محمد امین شوهر همین زن به قتل رسیده بود ، قاضي محکمه شرعاً محمد امین را محکوم به ۱۲ سال حبس نمود.

د مرکز او د ورډګو ...

کي د مخابراتو وزارت د مسؤلینو او انجنیرانو لخوا په میدانښار کي د راډیو ریلي دیوي دستګاه په درولو سره بیا تأمین او د استفادې وړ وګرځید .

د اسلامي تحریك تر ...

وزارت په مرکز کي جوړ شوي د کابینې ځینو وزیرانو د هیواد د مرکز او ولایتونو د کرنې رئیسانو د کورنیو او بهرنیو موسسو استازو ګډون کړی و .

پدې سیمینار کي چي مشري یې د کرنې وزارت د لومړي معین محترم مولوي شمس الرحمن حبیبي په غاړه وه د فواید عامې وزارت سرپرست محترم ملا الله داد اخند د کانو او صنایعو وزارت سرپرست محترم مولوي احمد جان، د نبا تاتو د ساتنې لوی ر یس محترم سر محقق صاحبداد پاکبین، د ننګرهار ولایت د اوبو لګولو د کانالونو رئیس محترم مولوي عبدالمناف ، د فراه ولایت د کرنې رئیس محترم الانجنیر محمد اسلم په وار سره په هیواد کي د کرنې د رول او ارزښت او د دې علمي سیمینارونو د جوړولو د میکانیزه کرنې د ارزښت او ددغه طبیعي شتمنۍ څخه د سې ګټې په خاطر چي لوی خداي زموږ هیواد ته ورکړي خبري وکړې او زموږ د ټولنې د اقتصاد په رغونه کي یې د کرنې رول زیات ارزښتناکه او ګهور وباله .

یکتعداد سامان آلات ...

سلیترکش سه کیلوانه ، بیست متر سیم الستیکجستي، یك حلقه فیته سی متره، استاد شیکه چاروتله قلعه موسي و یك کانتینر میباشد که به اثر سعي و تلاش موظفین امنیتي ماموریت سمت سوم از منطقه قلعه موسي کشف و بعداً به محضر هیأت بریاست برق کابل تسلیم داده شد .

۴۸ مین سالگرد روزنامه هیواد برگذار شد

۴۸ مین سالګرد روز نامه هیواد ضمن ګرد همایی اشرفي از علماً ، دانشمندان، نویسندګان و علاقه مندان ادب و فرهنګ کشور در تالار رادیو شریعت در کابل برګذار ګردید .

[illegible]

... در شماره ۷٤ مورخ ۲۲/ ۱۲/ ۷٤ روزنامه هیواد نشر شده است آنجا مطالعه فرمایند - والسلام

شریعت اوونیزه ګډون کوونکي مني

[illegible]

SHARIAT WEEKLY
Published by:
Islamic Movement of Taliban - Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki
Editor: Mula Asadullah Hanifi
Add: House # 520, str#11,
Wazir Akbar Khan Minah,
Kabul - Afghanistan, Tel #: 21381
Peshawar ,Tel #: 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No: 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar

د ګوون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ میاشتني	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
یورپا او امریکا	US$75	US$150